او د ضمّه لوري ته بې له غږ نه اشاره
کيږي او اشمام په مرفوع اومضموم
توروکې اجرا کيږي.

۴- روم: دحرکت دغږ ښکته برخې له تلفظ کولو
څخه عبارت دی. غږ علماو کرامو ويلي
دي حرکت سره نري غږ کښلو څخه عبارت دی.
يعنی داچې دوقف په وخت کې دې حرکت
دوه ثُلثه ساقط کړي اويو ثُلث دې تلفظ کړي.
معمولاً روم په ضمه اوکسره مرفوع اومجرور
کې اجرا کيږي.

نوټ: (الف) اصل په وقوفو کې اسکان دی.
(ب) روم او اشمام په اصلي حرکت اجرا کيږي.

دوقف علامې

د وقف ځایونو ته پاملرنه د تجوید د علم له مهمو برخو څخه شمیرل کیږي.

دوقف علامې په لاندې ډول دي.

۱- م : د لازم وقف علامه ده.

د وقف د نه کولو څخه په معنی کې خلل پیدا کیږي.

۲- ط : د مطلق وقف علامه ده.

یعني وقف کول احسن (ډیرښه)

دي له دې څای نه باید تیر نه شو

۳- ج : - د جایز (کافي) وقف علامه
ده په دې څای کې وقف او
وصل دواړه روادي، مګر وقف
ښه دی.

۴- ز : د مجوز وقف (حسن وقف)
علامه ده، چې وقف او وصل یې
جایز مګر په وصل سره لوستل
یې ښه دي.

۵- ص : د مرخص وقف علامه ده،
(په څینو څایو کې چې آیة
شریف اوږد وي او نفس دلوستلو

ددوام قدرت ونه لري، کولی شو
چې په دې کلمه باندې وقف وکړو
بې له دې نه چې لوستل شوی کلمه
بیا تکرار کړو.

۶- **لا** ؛ د قبیح وقف علامه ده ځکه
په دې ځای باندې په وقف کولو سره
معنیٰ تغیر کوي نو ښایي چې وقف
ونه کړو.

که چیرې د نفس د نه رسیدلو
له امله وقف وشو نو لازم ده چې دوقف
شوي کلمې څخه له سره شروع وکړي.
مګر دا یاتو په آخر کې د احکم

نه دی ځکه (روایت شویدی چی
رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د آیا تو په
آخر کې یې وقف کولو.)

۷- ❖ ؛ د معانقه وقف علامه ده چې
په حاشیه کې (مع) یا (معا) لیکل
شوی وي.

معانقه په لغت کې غاړه ترغاړه
کیدل او یوبل سره غیږ په غیږ
کیدلو ته وایي مګر په تجوید کې
کله چې دوه وقفونه څنګ ترڅنګ
راغلي وي هغه ته معانقه وقف
ویل کیږي او علامه یې د دوه کلمو

سربيره وي

که چيري په اوله کلمه کې وقف وکړي دوهمه کلمه بايد په وصل سره ولوستل شي د مثال په توګه لَارَيْبَ ۛ فِيْهِ ۛ هُدًى لِلْمُتَّقِيْنَ ۝

۸- **ك** : د كَذٰلِكَ په معنٰى دى يعني ددې ايټ د حکم په شان دى.

۹- **ق** : د (قَدْ قِيْلَ) يا (قِيْلَ عَلَيْهِ الْوَقْفُ) علامه ده. دځينو علماوو په نظر دلته وقف کول جايز دي خو وقف نه کول ښه دي.

۱۰- **قِلَا**: يعني وقف مه کوه.

۱۱- **قِف** : یعني وقف وکړی.

۱۲- **صلی** : یعني وصل له وقف نه بهتر دی.

۱۳- **صل** : یعني وصل وکړی.

۱۴- **وقفه** : دا وښ دې سکتې علامه
ده اود قرائت د علم په اصطلاح کې
سکته اووقفه سره قریب المعنیٰ دي
مګر سکته وصل ته او وقفه وقف
ته نږدې وي.

۱۵- **س** : د سکته علامه ده چې
غږیې د تنفس څخه قطع کیږي.

۱۶- **○** : دایره د آیهٔ مطلق علامه
ده چې چیرته صرف دا علامه وي

وقف دې وکړې شي.
که چیرې په سرې (لا) وې وصل
يې هم جایز دی.

۱۷- ۵ : دکوفي آیة علامه ده او
حکم يې د دایروي آیة د حکم په شان دی.

پوښتنې

۱- وقف څه شی دی او ضد يې کوم دی؟
۲- وقف په اسکان له څه شي څه عبارت دی؟
۳- روم څه شی دی او په کومو حرکاتو کې راځي؟
۴- د لازم وقف علامه څه شی ده؟
۵- د مجوز وقف علامه څه شی ده؟

د وقف ډولونه

وقف په پنځه ډوله دی

۱- تام وقف

۲- حسن وقف

۳- کافي وقف

٤- قبیح وقف

۵- اضطراري وقف

۱- **تام وقف**: هغه دی چې کلام لفظًا اومعنًا په هغه سره تمامیږي اوله مابعد سره کوم تعلق و نه لري. د مثال په توګه:

قل هُوَاللّٰهُ اَحَدٌ ۚ

۲- **حسن وقف**: هغه دی چې کلام د معنیٰ له حیثه تمام مګر دلفظ په لحاظ له مابعد سره ارتباط ولري وقف په هغه ښه دی مګر احسن (پرېښه) وصل له مابعد سره دی. د مثال په توګه (اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ) چې وقف د لِلّٰهِ پرکلمه باندې حسن (ښه) دی مګر وصل د (اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ) د (رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ) سره احسن (پرېښه) دی.

۳- **کافی وقف**: هغه دی چې کلام دلفظ له حیثه تمام اود معنیٰ په

د راء حکمونه

(را) دوه حکمونه لري:

تفخیم (ډك لوستل) او ترقیق (نرم لوستل)

۱- که چیري (راء) زور یا پیش ولري په تفخیم (ډك) لوستل کیږي لکه رَجُلٌ، رُبَمَا

۲- هرکله چې (راء) زیر ولري نو مرقق (باریك) لوستل کیږي.

مثال: رِجَالٌ ، بِالْبِرِّ

۳- هرکله که (راء) ساکن او څخکښې توري یې زور لرونکی (مفتوح) یا پیش لرونکی (مضموم) وي نو ډك لوستل کیږي.

لحاظ له مابعد سره تعلق ولري،
چې وقف پرهغه کافي اوښه دی.
لکه وقف په (مِنْ قَبْلِكَ) د (وَالَّذِيْنَ
يُؤْمِنُوْنَ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ وَمَآ اُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ ۚ
وَبِالْاٰخِرَةِ هُمْ يُوْقِنُوْنَ ۝) په مبارک ایه
کې، چې په دې ځای کې وقف
کافي اوښه دی.

۴- **قبیح وقف:** هغه دی چې کلام د
معنیٰ اولفظ له حیثه له مابعد سره
تینګ اوکلك تعلق ولري اود وقف
په سبب د مبارک ایة په معنیٰ کې
فاحش تغیر واقع شي د مثال په توګه

د (وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ) مبارک
آیة کې د وَالْإِنْسِ پر کلمه
باندې وقف .

۵ ـ اضطراري وقف : هغه ځای
لوستونکي د نفس تنګۍ یا نور
له امله وقف ته ضرورت پیدا کړي
په دې صورت کې هغه ته وقف جایز
دی مګر هغه ځای وشي چې پر هغه
کلمه باندې وقف وشي چې د معنیٰ
فساد واقع نه شي اوله وقف نه پس
له یوې ماقبلې مناسبې کلمې څخه شروع
وکړي لکه د ضرورت په وخت

کې وقف د (اَلْفَحْشَآءِ) په کلمه
باندې د (وَيَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَآءِ) په
مبارکه آیه کې چې لوستونکی دې وړوسته
د اضطرار دلرې کیدو څخه مبارکه آیه لږ سره
شروع کړي او ودې لولي
(وَيَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ وَالْبَغْيِ ج)

پوښتنې

۱- وقف په څو ډوله دی؟ دهریو نوم واخلی.
۲- کافي وقف تعریف او دمثال سره یې بیان کړی.
۳- قبیح وقف تعریف کړی.
٤- د اضطراري وقف نه وروسته دې
لږ کومځای نه لوستل شروع شي؟

وقف په حرکت او وصل په سکون

یوله هغو حالتونو څخه چې د وقف په وخت کې د توجه وړ دی وقف په حرکت او وصل په سکون دی ، چې د تجوید د علماو په نظر دا دوه یوله وقف جایز نه دی.

۱- **وقف په حرکت** : هغه دی چې د وقف په وخت بې له دې نه چې د کلمې آخر حرکت له منځه ولاړ شي ، صوت (غږ) قطع شي او د نفس له تازه کولو نه

پس وروستی کلمه ولوستل شي لکه:
(مَالِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ ۝) بې له دې نه چې
نون ساکن شي، دنفس له تازه کولو نه
وروسته د اِيَّاكَ نَعْبُدُ مبارکه آیة ولولی.

وصل په سکون: هغه دی چې د
وقف په وخت کې دکلمې حرکت ساقط کړي اوبې
له دې نه چه نفس تازه کړي سمدستي وروستی کلمه
ولولي لکه (مَالِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ ۝) چې نون ساکن کړي
اوبیله دې چې نفس تازه کړي د اِيَّاكَ نَعْبُدُ) مبارکه
آیة وروسته وصل کړي.

پوښتنې

۱- وقف په حرکت تعریف کړی.
۲- ایا وصل په سکون جایز دی؟

قطنی نون

کله چیرې له تنوین څخه وروسته
داسې کلمه راشي چې اول یې د وصل همزه
وي د وصل په حالت کې تنوین په مکسوره
نون بدلیږي چې همدې نون ته قطني
نون ویلې اوپه قرآن کریم کې دواړه
(ن) په شکل لیکل کیږي.

مثال: عَلِيمُ نِ الَّذِي ، شِيبَانِ السَّمَاءُ
هُمَزَةِ نِ الَّذِينَ

په پورتنیو مثالونو کې د عَلِيمُ
کلمه چې د وصل په حالت کې
یې تنوین په مکسوره نون بدل شوی

دی اوهمدارنګه د نورو کلماتو
تنوینونه په قطعي نون بدل شوي
دي مګر د وقف په صورت کې
قطعي نون نه اړتیا لري .

پوښتنې

۱- دوه مبارک آیاتونه چې په هغو
کې نون قطعي راغلی وي وښایاست.
۲- آیا د وقف په صورت کې
قطعي نون نه اړتیا لري؟

دتورو ځینې صفتونه

۱- قلقله : په لغت کې تکان اوښورېدل-
لوته ویلې او په اصطلاح کې تکان
ورکول دې ساکن تورې ته په خپل
مخرج کې .

د قلقلې تورې پنځه دې چې
مجموعه یې (قُطْبُ جَدٍ) دې لکه:
ابواب ، خلاق ، مجید ، محیط ، بهیج
مګر په قاف کې قلقله واجب
اوپه نورو څلورو تورو کې جایز
ده اود تجوید ځینو علماوو په نظر د قلقلې

په ټولو توريو کې چې ساکن وي
قلقله واجب ده

۲- **صفير** : هغه غږ دی چې د
ثنايا غاښونو او ژبې له منځ څخه
راوځي او دري توري (صاد، سين او
زا) نومورې صفت لري.

۳- **لين** : په لغت کې د نرمې په
معنی دی. دوه توري (واو اويا)
چې ساکن اوماقبل يې مفتوح وي
دلين توري بلل کيږي ځکه چې
په نرمه سره تلفظ کيږي.

۴- **انحراف** : په لغت کې ميل

کولوته وایي . دوه توري (راء
او لام) چې د اداکولو په وخت کې
يې ژبه د تالو خواته میل کوي
منحرفه توري بلل کیږي.

۵- تکریر : د بیالوستلو او تکرار
کولو څخه عبارت دی او د (راء) توري
داصفت لري.

۶- تَفَشِّي : د تیت اوشیندل شوی
معنی ورکوي د شین توري دې
صفت لرونکی دی ځکه چې دهغه
داداکولو په وخت کې غږ په
خوله کې تیت او منتشر کیږي.

مثلاً مَرْيَمَ ، مُرْجَوْنَ

۴- کله چیرې (راء) ساکن اومخکښی توری
پې زیر لرونکی (مکسور) وي (راء) نری
لوستل کیږي په دې شرط چې کسره اصلي
وي اوپس له (راء) نه مفتوح توری د
استعلاء له توري څخه نه وي لکه (راء)
په (فِرْعَوْنَ وَاسْتَغْفِرْهُ) کې .

۵- کله چیرې (راء) ساکن اوماقبل یې
مکسور وي مکرر وروسته له هغې د
استعلاء یومفتوح توری وي نودلوستل
کیږي لکه (راء) په لَبِالْمِرْصَادِ، فِرْقَةٌ
قِرَطَاسٍ کې مکرر په (كُلُّ فِرْقٍ) کې د (ق)

۷- استطاله : د غزیدل شوی په معنیٰ ده او د (ضاد) توری د صفت لري .

باید وویل شي هغه صفتونه چې مخکې ذکر شول یوله بل سره متضاد نه دي او ضدیت نه لري .

۸- **اذلاق** : دګرځندیتوب اوتیزی په معنا دی اوشپږ توري (باء ، راء ، فاء ، لام ، میم او نون) د مذلقی په نوم یادیږی ځکه چې په ګرځندیتوب سره ادا کیږي .

۹- **اصمات** : د چټیتا او سکوت په معنا دی او د اذلاق ضد دی نو د مذلقی توري

نه پرته نور ټول توري مصمته دي.

پوښتنې

۱- قلقله تعریف کړی.

۲- په لاندینی مبارک آیه کې د صفیر توری وښیاست.

۳- فَإِذَا نُفِخَ فِي الصُّورِ فَلَا أَنسَابَ بَيْنَهُمْ يَوْمَئِذٍ وَلَا يَسَاءَلُونَ ۝

۳- لین په لغت کې څه معنا لري او دلین توري کوم دي؟

٤- کوم توری د تفشّي صفت لري؟

۵- په لاندینی مبارک آیه کې کوم توری د استطالې صفت لري؟

غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ ۝٧

سورة فاتحه ايه ۷

٦- مذلقي توروته ولې مذلقه توري وايي؟

د ضمیر ها، اشباع او دهغې نه اشباع

اشباع په لغت کې مړول او د تجوید د علم په اصطلاح کې د تورې دحرکت له دې لوستلو څخه عبارت دی په داسې ډول چې په ضمّه کې د (واو) اوپه کسره کې د یاء په شکل اداشي لکه: مَالُهُ چې د مَالُهُوْ

او سَمْعِهِ د سَمْعِهِیُ په شکل اداکیږی.

که چیرې د (هاء) ضمیر مضموم وي د اشباع په حالت کې د (واو) په شکل اوکه چیرې د هاء ضمیر مکسور وي د یاء په شکل تلفظ کیږي.

که چیرې مابعد یاماقبل د هاء د ضمیر ساکن وي په اشباع سره نه لوستل کیږي لکه: مِنْهُ، وَيُعَلِّمُهُ الْكِتٰبَ، مکرپه (فِيْهِ مُهَانًا) مبارك آیة کې دهاء ضمیر داشباع په طریق لوستل کیږي.

دا (ـُ) د ضمې، دا (ـِ) د کسرې

ARIC
B
6.4921
SCA
9043.M.53

نشروونکې اداره:

SWEDISH COMMITTEE FOR AFGHANISTAN
SCA
Established in 1980

تمویلوونکې: سویډن
او اروپا ګډ بازار (EC)
دچاپ کال: ۱۳۷۸ هـ.ش
دچاپ شمیر: ۷۷۰۰
چاپونکي: اکبر (ACBAR) چاپخانه.

دا (ـٰ) د فتحې د اشباع علامه ده.

پوښتنې

۱- په لاندې مبارکو ایاتونو کې هغه (هاء) چې په اشباع سره لوستل کیږي وښایي.

قَالَ نُوحٌ رَّبِّ اِنَّهُمْ عَصَوْنِیْ وَاتَّبَعُوْا مَنْ لَّمْ یَزِدْهُ مَالُهٗ وَوَلَدُهٗ اِلَّا خَسَارًا ۝

سورهٔ نوح ایهٔ ۲۱

یَوْمَ یَفِرُّ الْمَرْءُ مِنْ اَخِیْهِ ۝ وَاُمِّهٖ وَاَبِیْهِ ۝ وَصَاحِبَتِهٖ وَبَنِیْهِ ۝

سورهٔ عبس

د استعلاء د توري پي د کسري په خاطر
د تجويد د علمګيني عالمان يې تفخيم
ښه بولي اوبعضي يې ترقيق .
۶- که چيري (راء) ساکن اوماقبل يې
په عارضي کسره سره مکسور وي ډک
لوستل کيږي ، لکه (راء) په (اَمِ ارْتَابُوا)
او لِمَنِ ارْتَضَىٰ کې .
۷- په هغه صورت کې چې (راء) د وقف په
وسيله ساکنه شي اوماقبل يې هم ساکن
وي په دې حالت کښې د دريم توري حرکت
(د راء د مخکښې نه د مخکښې توري حرکت)
اعتبار لري که چيري مفتوح يامضموم

وي دك لوستل کيږي لکه (راء) په (خُسْرٍ) او (بِالصَّبْرِ) کې.

اوکه چيرې مکسور وي نو ږلوستل کيږي لکه (راء) په اَلسِّحْرَ کې.

۸- که چيرې (راء) ساکن او مخکښې له هغې نه ساکنه (يا) وي نو ږلوستل کيږي که څه هم د (يا) ماقبل مفتوح وي، د مثال په توګه (راء) په خَيْرٌ ط سَيْرٌ د وقف په حالت کې.

پوښتنې

۱- (راء) څوحکمونه لري؟

۲- د لاندینوکلمو په کومه (راء) کې ترقیق اوپه کومه (راء) کې تفخیم دی؟ له هغې (راء) لاندې چه په تفخیم لوستل کیږي خط اوله هغې (راء) څخه چې په ترقیق اداکیږي دایره وکاږئ:

مُرْجَوْنَ قِرْطَاسٍ رِجَالٌ رَسُوْلٌ

۳- د فاتحې سورې ولولئ اووایئ چه په کومه کلمه کې (راء) په تفخیم اوپه کومه کلمه کې په ترقیق اداء کیږي؟

د الله جَلَّ جَلَالُهُ د (ل) د
توري تفخيم او ترقيق

الف ـ كه چيري د الله جَلَّ جَلَالُهُ د
لفظ څخه مخكښې مفتوح يا مضموم
وي ، مفخم (ډك) لوستل
كيږي لكه (ل) په مِنَ اللهِ
او نَصْرُ اللهِ كې .

ب ـ كه چيري د الله جَلَّ جَلَالُهُ له
لفظ څخه مخكښې توري مكسور وي
په ترقيق (نري) لوستل كيږي د مثال
په توګه : بِاللهِ ، لِلّٰهِ ، بِسْمِ اللهِ كې .

وقف

وقف په لغت کې د خبرو کولو په ترڅ کې د ریدلو اولږ څه ځنډ کولو ته وایي او د تجوید د علم په اصطلاح کې د کلمې وروستی توری ساکن کول دي چې د نفس او غږ پریکړه ورسره کیږي.

د وقف او وصل منځنی حالت نه سکته وایي.

د وقف په وخت کې نفس او غږ دوارهٔ پرې کیږي او نفس تازه کیږي، مګر د وصل په وخت کې نفس او غږ نه قطع

کیږي او نفس نه تازه کیږي.
د غږ او اعراب قطعی ترې له قطعی د
نفس نه سکته ویل کیږي.

د وقف په حالتونو کې بدلون

۱- وقف په اسکان عبارت دی له
ساکنولو د کلمو نه چې حرکت ولري
لکه (ك) په فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ کې چې
(ك) زور لري په حالت د وقف کې
بِحَمْدِ رَبِّكَ لوستل کیږي.
۲- وقف په ابدال: عبارت دی له

تبدیلو د (تاء) تاءنیث په ها سره لکه:
صلوٰة چې د وقف په حالت کې صلوٰه
تلفظ کیږي.

اوتبدیلول د تنوین په الف سره
لکه رَحِيمًا اوشَكُورًا چې د وقف په
حالت کې رَحِيمَا اوشَكُورَا لوستل کیږي.

۳- وقف له اشمام سره: اشمام د تجوید په
علم کې عبارت دی د تورې له ساکن کولو
څخه د وقف په حالت کې اوشونډې وته اشاره
ورکول دي د پیښ طرف ته لکه په
آخرني (ن) د (نَسْتَعِينُ) کې چې د وقف
په وخت کې شونډې پرې را ټولیږي او

دافغانستان اسلامي دولت
دښوونې او روزنې وزارت
دتأليف او ترجمې رياست

تجويد

دشپږم ټولګي لپاره

مؤلف: مولوی غلام عیسیٰ

د افغانستان اسلامی دولت
د ښوونې او روزنې وزارت
د تالیف او ترجمې ریاست

تجوید

د شپږم ټولګي لپاره

مؤلف: مولوی غلام عیسیٰ

کال ۱۳۷۴ هـ ش

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د ښوونکی لپاره لارښود:

۱- ښوونکی باید له پاکو جامو سره ټولګي ته ننووځي.

۲- ښوونکی بایدټولګي ته له ننوتومخکې درسي پلان ولري.

۳- درسي پلان باید د درسي ساعت مطابق جوړ شي.

٤- ښوونکی باید په تدریس کې له ډول ډول روشونو څخه کار واخلي.

٥- ښوونکی باید په تاکلي وخت ټولګي ته داخل شي.

٦- ښوونکی باید خپل ځان د یو همکار په توګه زده کړونکو ته وروپیژني.

۷- ښوونکی باید ټولګي ته د ننوتو په وخت کې سلام واچوي .

۸- ښوونکی باید د نوی درس په پیل کې بِسمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیم ووایي.

۹- ښوونکی باید د تدریس لپاره ښه فضا برابره کړي.

۱۰- ښوونکی باید دزده کوونکو حاضري واخلي.

۱۱- ښوونکی باید د زده کوونکو کورنۍ کار وګوري او اصلاح یې کړي.

۱۲- د (کلموا الناس علی قدر عقولهم)مقولې په نظر کې نیولو سره ښوونکی باید د زده کوونکو له سویې سره سم درس ورکړي.

۱۳- ښوونکی باید د تدریس په وخت کې خپل زده کوونکي

ارزیابي کړي.

۱٤- ښوونکی ته لازمه ده چې د زده کوونکو په منځ کې د ښه نیت او ورور ولۍ فضا برابره کړي.

۱۵- ښوونکی باید خپلو زده کوونکو ته په تدریس کې برخه ورکړي.

۱٦- ښوونکی دی ددرس دمؤثره کیدو په خاطر خپل زده کوونکي وپیژني.

۱۷- ښوونکی دی ددرس په پای کې زده کوونکو ته د پوښتنو کولو حق ورکړي.

۱۸- ښوونکی دې زده کوونکو ته کورنۍ وظیفه ورکړي.

۱۹- ښوونکی دې په تدریس کې له محیطي، ساده او ارزانو مواد و څخه ګټه واخلي.

۲۰- ښوونکی دې په داسې ډول د زده کوونکو پوښتنوته ځواب ووایی چې په راتلونکې کې د دوی د پوښتنو کولو استعداد کمزوری نشي.

۲۱- ښوونکی دې زده کوونکي و پوهوي چې ددی کتاب تمرینونه خپلو کتابچوته نقل او هلته دې حل کړي.